ډاکټر محمدآجان مرزی

۲۰۱۶/۰۶/۰۳

# په ملی اقتصاد کې د مالی بازارونو ونډه

**سریزه**

مالي بازارونه د ملي اقتصاد په کړنو او وده کې لوی ځای لري. بې له دې بازارونو به د پانګوال سیستم د پرمختګ په اوسني پړاو کې د تولید لپاره د پانګې ترلاسه کول ډېر ګران کار وي. د دې بازارونو له لارې په اقتصاد کې د یوې ډلې اضافي پیسې او پانګه بلې ډلې ته چې د دې پیسو په کارونه تولید کوي یا په مستقیمه توګه د ونډو د بازار او یا په غېرمستقیمه توګه د بانکونو له لارې چمتو کېږي. په عین وخت کې په دې بازارونو کې ونډې او نور ارزښت لرونکي سندونه د هغو کسانو تر منځ معامله کېږي چې د تولید په پروسه کې هیڅ ډول رول نه لوبوي. دا ډول معاملې تر زیاته حده د ونډو په دوهم بازار کې تر سره کېږي. زه به په خپله دې لیکنه کې زیار وباسم چې مالي بازارونه او د هغوی ځانګړتیاوې او د عمل میکانیزم روښانه کړم. په دې لړ کې به د ملي اقتصاد پر وده د دې بازارونو پر ارزښت هم خبرې وکړم.

**مالي بازارونه**

د بریتانیې یوه پخواني لومړي وزیر ویلیم ګلاډ ستون په ۱۸۵۸ میلادي کال کې په اقتصاد کې د مالي چارو د ارزښت په هکله ویلي و: » مالي وسیلې د یوه هېواد د معدی بنه لري چې د بدن ټول نور غړي د خپلو کړنو بنه (قوت) ترېنه ترلاسه کوي.« ( د اروپا مرکزي بانک، ۲۰۰۱).

مالي بازارونه هغه ځای ته وېلای شو په کوم کې چې پانګه اچونکي خپلې اضافي مالي زېرمې په کار اچوي او مؤلدین د خپل تولید لپاره مالي وسیلې ترلاسه کوي. دا مالي وسیلې په دې بازارونو کې په بېلابېلو ډولونو ترلاسه کېږي. د مالي چارو یوه ډېره ارزښتناکه برخه د پور یا کریدت د ترلاسه کولو له لارې ترسره کېږي. له دې لارې مؤلدین له خپل مالي توان څخه د تولید د لوړې کچې د تأمینولو لپاره مالي وسیلې، مستهلکین د خپلې غوښتنې لوړه بیه لرونکي توکي او خدمتونه او حکومت د مالیاتو د کمښت پر مهال په اقتصادي بنسټونو کې د لګښتونو لپاره مالي وسیلې ترلاسه کوي. دا کار له یوې خوا د بانکونو او له بلې خوا د مالي بازارونډ نورو واحدونو په مرسته ترسره کېږي. په ځانګړې توګه سهامی شرکتونه د خپلې پانګې زیاته برخه د ونډو له بازارونو څخه د خپلو ونډو د خرڅولو له لارې ترلاسه کوي. په دې توګه تصدی، وګړي او هم حکومت د خپل سیالیت د ساتنې او یا په بل عبارت د اړتیا په پر مهال د مالي وسیلو د لرلو لپاره مالي بازارونو ته اړتیا لري.

په مجموعي توګه د مالي بازار ګډون کوونکي وګړي، تصدی او دولتي بنسټونه دي. دا درې واړه ه هم د پانګه اچونکو، سپماکونکو او هم د پور اخستونکو په بڼه په دې بازارونو کې ظاهرېږي. مالي بازار د دې درې واړو تر منځ د منځګړي رول لوبوي. پور اخستونکي حقوقي او یا طبیعي وګړي دي چې د خپلو تولیدي کړنو د پراختیا لپاره له نورو څخه د مالي وسیلو د ترلاسه کولو موخه لري. پانګه اچوونکي هغه کورني او بهرني اقتصادي واحدونه دي چې په اقتصادي تصدیو کې پانګه اچونه کوي. دا پانګه یې یا خپله ده او یا یې هم په مالي بازارونو کې د پور په ډول ترلاسه کوی. مالي بنسټونه هغه اقتصادي واحدونه دي چې د پور اخستونکو او پانګه اچوونکو تر منځ اړیکې رامنځته کوي. مالي بنسټونه مالي وسیلې له پوراخستونکو پانګه اچوونکو او له پانګه اچوونکو پور اخستونکو ته انتقالوي. له دې امله دواړه خواوې ګټې ترلاسه کوي. په دې توګه دواړه خواوې دې ته اړې نه دي چې یو او بل ولټوي او له یوه او بل سره په مستقیمه توګه معامله وکړي.



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په خیر و لولـئ

مالي بازارونه له درو برخو جوړېږي: د پانګي بازار، د پېسو او د توکو بازار. د پانګي په بازار کي مؤلدين او يا تصدى د پور اخستونکو په بڼه عمل کوي او د بېلابېلو مالي وسيلو په مرسته د خپل توليدي فعاليت لپاره مالي وسيلي ترلاسه کوي. دا وسيلي د پور د سندونو، ونډو او نورو ارزښت لرونکو سندونو بڼه لرلای شي چي دولت، تصدى يا مؤلدين يې مالي بازارونو ته د خرڅلاو لپاره وړاندې کوي. په دې ځای کي د ونډو ابتدايي او دوهم بازارونه له يوه او بله بېلولای شو. بازار ته عرضه شوې ونډې يا د پور سندونه په لومړي سر کي په ابتدايي بازار کي معامله کېږي او له هغې وروسته بيا دوهم بازار ته وړاندې کېږي. دوهم بازارونه د ونډو سيمه ايز بازارونه دي. د پانګي د بازارونو يوه ځانګړتيا دا ده چي د منځمهاله او اوږدمهاله مالي شتمنيو په اړه معاملي پکي ترسره کېږي.

د پانګي په بازارونو کي ونډې، د پور پانو پېلابېل ډولونه او نور ارزښت لرونکي سندونه، بهرني اسعار او ارزښت لرونکي فلزات لکه سره زر معامله کېږي. د دې بازارونو درې ارزښتناکه برخي اوږد مهال او لنډ مهال پورونه او د ونډو بازار دی. کله چي يو سهامي شرکت په مالي بازار کي د خپلو اسهامو يوه برخه خرڅوي نو په دې توګه په خپله پانګه کي د ونډې يوه برخه بازار ته وړاندې کوي او په بدل کي يې مالي وسيلي ترلاسه کوي. د ونډو پاڼي هم يو ډول پور يا کريډت بللای شو چي سهامي شرکتونه يې د دې ونډو په بدل کي له مالي بازارونو څخه ترلاسه کوي. خو دا ډول پور له نورو ډولونو سره بنسټيز توپير لري. شرکت ته د ونډو له خرڅولو وروسته د پانګي اچوني ټول ګواښونه متوجه ندي. سهامي شرکتونه د خپلو ونډو په خرڅلاو د پانګي اچوني ګواښ پر ونډو لرونکو باندې وېشي. د پانګي په بازار کي هم د هر يوه بل بازار په توګه له يوې خوا غوښتونکي يا تقاضا کوونکي او له بلې خوا وړاندې کوونکی يا عرضه کوونکي عمل کوي او د بازار بيه هم د عرضې او تقاضا د قوانينو پر بنسټ ټاکل کېږي. په بل عبارت که په مالي بازارونو کي ونډو او نورو ارزښت لرونکو سندونو ته غوښتنه زياته وي نو بيه يې هم لوړېږي او برعکس.خو دې ته هم بايد پاملرنه وشي چي ښايي د ونډو بيه په پيل کي د تبليغاتو او نورو فکتورونو له امله په بازار کي له اصلي ارزښت څخه لوړه وي (overvalue) او په دې توګه پانګه اچونکو ته له دې پلوه د تاوان ګوښ رامنځته کېدای شي.

د پانګي بازارونه د ملي اقتصاد په وده کي ارزښتناک رول لوبوي. د دې بازارونو په مرسته له اضافي مالي وسيلو څخه د توليدي موخو لپاره د کټي اخستي لارې چارې برابرېږي. د پانګوال اقتصاد د ودې په يوه معين پړاو کي اقتصادي کړني د پورونو او يا کريډيت په نشتوالي کي محدودېږي. نن ورځ ډېرې کمې توليدي تصدى دومره مالي توان نلري چي د خپل توليد د ودې او پراختيا لپاره ټولي مالي وسيلي په خپله برابرې کاندي. په دې توګه دې ته اړې دی چي د اړتيا وړ پانګي د ترلاسه کولو لپاره د پانګي بازارونو ته مراجعه وکړي. په دې توګه ويلای شو چي د پانګي بازارونه د توليد په وده او د کارځايونو په رامنځته کولو کي ارزښتناک رول لوبوي.

کله چي پانګه اچوونکي د پانګي په بازارونو کي د يوه شرکت ونډې پيرودي، له دې عمل سره جوغت د خپلو ونډو له اندازې سره سم د هماغه شرکت په اداره کي هم په غېرمستقيمه توګه برخه ترلاسه کوي. خو په دې هکله بايد وويل شي چي په ننۍ پانګوال اقتصاد کي د دې کار په وړاندې زيات خنډونه موجود دي او ونډې لرونکي د شرکتونو په اقتصادي پرېکړو کي زيات رول نه لوبوي.

د پيسو بازار په ملي اقتصاد کي د مرکزي بانک له خوا تنظيميږي. په دې بازارونو کي د دولتي پورونو سندونه د مرکزي بانک له خوا بازار ته وړاندې کېږي. د دې تر څنګه په دې بازار کي مالي لنډمهاله سپما (Call Money) سوداګريز او امانتي سندونه، معيادي پيسي يا معيادي سپماوې معامله کېږي. دلته د پانګي د بازار برعکس په لومړي سر کي لنډمهال او منځمهال سندونه معامله کېږي.

د توکو مالي بازار د خامو مواد د معاملو بازار دی. دا معاملي معيادي بڼه لري. د بېلګي په ډول د خامو موادو د بيې او اندازې په هکله د مؤلد او پيرودونکي ترمنځ په يوه راتلونکي مهال د معاملي په هکله تړون رامنځته کېږي. د دې معاملو



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په خیر و لولئ

اصلي موخه مؤلد ته د ده د محصولاتو د خرڅلاو په هکله چې تراوسه تولید شوي ندي د یو ډول ضمانت رامنځته کول دي. خو له بده مرغه اوس مهال د مالي وسیلو ډېرې پیچلې بڼې رامنځته شوي دي چې د دې موادو په هکله احتکاري معاملې شوني کوي او په دې توګه د خوراکي موادو د بیو د مصنوعي لوړېدو لامل ګرځي.

د پورتنیو تشریحات پر بنسټ د مالي بازار دندې په لاندې ډول خلاصه کولای شو:

- تولیدي موخو ته د سپماوو انتقالول
- د ونډو خرڅونکو ته د بیو په هکله د مالوماتو ورکول
- مالي شتمنیو ته د سیالیت برابرول
- د مالي معاملو د لګښت کمول. ( س. پوجاري، ۲۰۱۵).

**وروسته پاتې هېوادونه او مالي بازارونه**

په دې ځای کې باېد دا پوښتنه تحلیل شي چې د مالي بازارونو په ځانګړې توګه د پانګې د بازارونو یوه مهمه دنده چې د سپماوو راغونډول او د مالي زېرمو وېشل دي، په وروسته پاتې هېوادونو کې تر کومه حده د عملي کېدو وړتیا لري؟ آیا په دې هېوادونو کې د پرمختللو هېوادونو د مالي بازارونو کاپي کول شوني دي؟ په لومړي سر کې باېد وویل شي چې دې پوښتنېو ته د یوه عمومي ځواب ورکول ګران کار دی، ځکه چې وروسته پاتې او مخ پر ودې هېوادونه په خپل منځ کې هم زیات توپیرونه لري. خو سره له دې به هم زیار وباسم چې دې پوښتنو ته یو نسبي ځواب ترلاسه کړم.
د سپما او پانګې کمښت د وروسته پاتې هېوادونو یوه ډېره لویه ستونزه ده. دا هېوادونه د دې ستونزو له امله په یو ډول شېطاني دایره کې راګیر دي. له دې دایرې څخه د وتلو او د اقتصادي ودې او پرمختګ د تأمینولو لپاره باېد په لومړي سر کې د سپما محدوده اندازه چې په دې هېوادونو کې موجوده ده د مالي بنسټونو له خوا تولیدي تصدیو ته منتقلې شي. په دې ځای کې باېد د مالي او بانکي سیستم ودې ته اشاره وکړو. بانکونه او نور مالي واحدونه د وګړو سپماوې نه یوازې تصدیو ته رسوي، بلکه باېد په عین حال کې له دې پیسو څخه د ټاکل شوي موخې لپاره له کارولو هم څارنه وکړي.
بانکونه باېد د دې توان او وړتیا ولري چې هغه پروژې یا پلانونه چې پانګه ورته سوقېږي له اقتصادي پلوه وڅېړي او ارزونه يې وکړي. په وروسته پاتې هېوادونو کې د مسلکي ظرفیتونو د کمښت له امله د دې کار ترسره کېدل له لویو ننګونو سره مخ دی.

په وروسته پاتې هېوادونو کې وګړي په زیاتو حالاتو کې خپلې محدودې سپماوې د بېړنیو حالاتو لپاره هم له خپل ځان سره ساتي او په دې توګه د تولید او د پانګې د رامنځته کولو په پروسه کې کوم ځانګړی رول نه لوبوي. په ۲۰۱۲ میلادي کال کې په تر ټولو وروسته پاتې هېوادونو (LDC) کې کورنۍ سپما کچه د کورنیو ناخالصو محصولاتو ۲۰ سلنه جوړوله. (د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پرمختګ کنفرانس، ۲۰۱۴). په همدې کال کې په افغانستان کې د کورنۍ سپما کچې منفي بڼه لرله (د کورنیو ناخالصو محصولاتو منفي ٪۱۶،۸ برخه). دا نسبت په آلمان کې ۲۵،۳ ٪ وه (نړېوال بانک، ۲۰۱۶).

په دې ځای کې باېد دې خبرې ته اشاره وشي چې د فیصدۍ تر څنګه باېد د هېوادونو د ټولې سپما مطلق رقم ته هم پاملرنه وشي. په دې معنی چې د بېلګې په توګه د آلمان د کورنیو ناخالصو محصولاتو یوه سلنه برخه د افغانستان د کورنیو ناخالصو محصولاتو له یوې سلنې برخې ډېره زیاته ده.

په مخ پر ودې او وروسته پاتې هېوادونو کې په زیاتو حالاتو کې د اداري فساد د شته والي له امله د خلکو سپماوې د بانکونو له لارې غېرقانوني چېنلونو ته استول کېږي. په تېرو کلونو کې په افغانستان کې د دې عمل یوه بېلګه د کابل بانک په رسوایي کې په ښکاره توګه وکتل شوه. په دې توګه په وروسته پاتې هېوادونو کې وګړي پر مالي بنسټونو او موسسو اعتبار نلري او د خپلو محدودو سپماوو زیاته برخه له ځان سره ساتي، بې له دې چې د تولید په بهیر کې کار


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکي په خیر و لولئ

ترینه واخستل شي. حکومت کولای شي چې د یوه مضبوط مالي سیستم په شته والي کې په دې سیستم کې تفتیش او کنټرول پیاوړی کړي، کاري مالي واحدونه رامنځته کړي او په دې توګه پر مالي بنسټونو د خلکو باور هم زیات کړي.

دا ستونزې بهرنیو مالي وسیلو او په لومړي سر کې پورونو ته په ځانګړې توګه د وروسته پاتې هېوادونو اړتیا لا نوره هم زیاتوي. خو دا هم باید ووېل شي چې د تېرو لسیزو تجربې ښکاره کوي چې بهرنیو پورونو د ډېرو عواملو له امله د وروسته پاتې هېوادونو اقتصادي ستونزې لا نورې هم زیاتې کړې دي. له یوې خوا د دې پورونو د سود کچه لوړه ده او له بلې خوا په دې هېوادونو کې د ننه د مسلکي ظرفیتونو د نشتوالي او په دولتي ادارو کې د فساد د لوړې کچې له امله دا پورونه تر ډېره حده یا په داسې پروژو کې مصرفېږي چې د دې هېوادونو د ودې لپاره کومې ځانګړې پایلې نه رامنځته کوي او یا هم غېرقانوني چینلونو ته لېږدول کېږي.

**پایله**

د مالي بازارونو یوه ځانګړتیا دا ده چې په هغو کې ګډون آزاد دی او هر وګړی او یا هم دولتي او یا خصوصي بنسټ کولای شي د پېرودونکي او یا خرڅونکي په ډول پکې ظاهر شي. په دې توګه په دې بازارونو کې معاملې هم عامه بڼه لري. خو باید ووېل شي چې په دې بازارونو کې د ګډون لپاره باید د اقتصادي ژوند د عمل په هکله په پوره اندازه مالومات موجود وي. څکه چې په دغو بازارونو کې پانګه اچونه د معامله کوونکي لپاره اقتصادي ګواښونه هم لرلای شي. په تېر میلادي کال کې په چین کې زیاتو خلکو چې په دې بازارونو کې بې پانګه اچونه کړې وه د ونډو د بازارونو د رالوېدو له امله د خپلو سپماوو زیاته برخه له لاسه ورکړه.

په مالي بازارونو کې د وګړ په وړاندې د مالي ګواښ د محدودولو لپاره مالي بنسټونه رامنځته شوي دي. دا بنسټونه له وګړو سره د ونډو د پېرودولو پر مهال په نسبي توګه مرستې ترسره کوي. په نسبي توګه له دې امله چې په زیاتو حالاتو کې خرڅوونکی د خرڅلاو د زیاتوالي او په دې توګه د زیات کمیشن د ترلاسه کولو لپاره ممکن ګواښونه یا نه په ګوته کوي او یا دا چې په دې اړه محدود او هم ناقص مالومات وړاندې کوي. په دې اړه دا هم باید ووېل شي چې د مالي د بازارونو په ځانګړې توګه د ونډو د بازارونو د عمل په هکله وړاند وینه ګران کار دی. دا بازارونو د سیاسي او اقتصادي پرمختګونو او پېښو په وړاندې ډېر حساس عمل کوي.

یوه بله ستونزه چې د دغو بازارونو د ودې په هکله وړاند وینه ګرانوي د احتکاري معاملو موجودیت دی. په ځینو حالاتو کې په ځانګړې توګه مالي لوی شرکتونه له خپل مالي توان څخه په کاراخستنه کولای شي چې د ونډو بیه په مصنوعي توګه لوړه او یا ټیټه کړي. بله لویه ستونزه هم دا ده چې په مالي بازارونو کې په ځانګړې توګه د خوراکي موادو په هکله د بانکونو او نورو لویو مالي بنسټونو له خوا د دې موادو د بیو په اړه یو ډول شرطي معاملې ترسره کېږي، په دې معنې چې د بیو د لوړېدو او یا ټیټېدو په هکله احتکاري عمل کوي او په دې توګه د خوراکي موادو بیه په مصنوعي توګه د خپلو ګټو په پام کې نیولو سره لوړوي. له دې امله په ځانګړې توګه بېوزلو او مخ پرودې هېوادونو ته زیات تاوان رسېږي، څکه چې د دې هېوادونو وګړي د پرمختللو هېوادونو په پرتله د خپلو عایداتو یوه لویه برخه د خوراکي موادو د ترلاسه کولو لپاره مصرفوي. « د نړیوال بانک، د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پرمختګ د کنفرانس (UNCTAD)او د خوراکي موادو د پالیسۍ د تحقیقاتو د انستیتوت (IFPRI) د مطالعاتو له مخې په ۲۰۰۷ او ۲۰۰۸ میلادي کلونو کې د غلو دانو بیه د مالي احتکارله امله زیاته لوړه شوه. په حبشې کې د جوارو بیه ۱۰۰ ٪، په یوګندا کې ٪۶۵ او په تانزانیا کې ٪۵۴ لوړه شوه. د غنمو بیه په سومالیا کې ٪۳۰۰، په سینیګال کې ٪۱۰۰ او په سودان کې ٪۹۰ لوړه شوه. د خوراکي مواد ترلاسه کېدو توان د زیاتو کورنیو د عایداتو له کچې لوړ شو. د خوراکي موادو د بیو چټک لوړېدل په ۶۱ هېوادونو کې د لوږې په وړاندې د احتجاجونو لامل وګرځېد. د لوږو کسانو په شمېر کې ۱۰۰ میلیونه تنه زیاتوالی رامنځته شو او دا شمېر په ۲۰۰۹ کال کې د لومړي ځل لپاره له یوه میلیارد څخه زیات شو.» (آکسفام، ۲۰۱۶).


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

څرنګه چې مخکې یادونه وشوه په وروسته پاتې هېوادونو کې مالی بازارونه یا موجود ندي او یا یې د دوې کچه ډېره ټیټه ده او په دې توګه د ملي اقتصاد په وده کې ډېره کمه ونډه لري. په دې هېوادونو کې د دولتي سکتور تر څنګه د مالي چارو یو ډول غېررسمی سکتور موجود دی چې د پانګې د رامنځته کولو لپاره د محدودو سپماوو په راغونډولو کې محدوده وړتیا لري. زما په آند باېد په دې هېوادونو کې د دولتي مالي او بانکي سیستمونو د ودې تر څنګه د مالي رسمي او غیررسمي سکتورونو ترمنځ مشارکت رامنځته شي تر څو د یوه او بل له موجودو ظرفیتونو او مثبتو تجربو څخه په کاراخستنه د مالي ستونزو په حلولو کې ګډ کار ترسره کړي.

په وروسته پاتې هېوادونو کې غېررسمي مالي سکتور په لومړي سر کې په کلیوالي سیمو کې د وړو بزګرانو لپاره او په ښاري سیمو کې د وړو کسبه کارانو او لږ عاېد لرونکو کورنیو لپاره د سپما او پور شونتیاوي برابروي. په رسمي سکتور کې د پور شرایط سخت دي او خپل کار له ټولو د مخه منځنیو او محدودو لویو تصدیو ته محدودوي او په دې توګه د ملي اقتصاد یوه لویه برخه له خپلو کړو بې برخې کوي. په دې برخه کې رسمي سکتور له غېررسمي سکتور سره په ګډ کار کې د دواړو خواوو د ودې لپاره اړینې پاېلې رامنځته کولای شي. په دې توګه د کم عاېد لرونکو کلیوالي وړو تصدیو لاسرسۍ پورونو ته زیاتېدلای شي د دې لپاره چې د غېررسمي سکتور د پانګې د رامنځته کولو او پور ورکونې وړتیا محدوده ده.

د دا ډول مشارکت په نتیجه کې هم اداري ستونزې چې په رسمي مالي سکتور کې موجودې دي کمېدلاي شي او هم د خلکو دسپماوو د راغونډولو او وړو تصدیو ته د پور ورکونې شرایط آسانه کېږي چې په پاېله کې یې له یوې خوا د پانګې رامنځته کېدل وده کوي او له بلې خوا د پور د مناسبو شرایطو له رامنځته کېدو سره سم تولید هم وده کوي. د دې تر څنګه په دې توګه نور مثبت نتایج لکه د وړو پور اخستونکو په هکله د غېررسمي سکتور له پراخو مالوماتو ګټه ترلاسه کول، په غېررسمي سکتور کې د پورورکونې له موسمی نوسانونو څخه مخنیوی، په غېررسمي مالي سکتور کې د حسابدارۍ د سیستم وده او داسې نور رامنځته کېدای شي.

**اخځلیک**


۱- اروپا مرکزي بانک، ۲۰۰۱،
(په لیکه)، دلته یې وګورئ:
https://www.ecb.europa.eu/press/key/date/2001/html/sp010531.en.html

(د لاسرسي نیټه: ۰۶/۰۵/۲۰۱۶)

۲- د ملګرو ملتونو د سوداګرۍ او پرمختګ کنفرانس (UNCTAD)، د تر ټولو وروسته پاتې هېوادونو (LDC) رپوټ ۲۰۱۴(PDF) ،
(The Least Developed Coutries Report 2014)
(په لیکه)، دلته یې وګورئ: http://www.unctad.org/en/PublicationsLibrary/ldc2014_en.pdf

(د لاسرسي نیټه: ۰۶/۰۵/۲۰۱۶)

۳- نړیوال بانک، د تر ټولو وروسته پاتې هېوادونو (LDC) رپوټ ۲۰۱۴(PDF) ،
(Gross domestic savings (% of GDP))
(په لیکه)، دلته یې وګورئ: http://data.worldbank.org/indicator/NY.GDS.TOTL

(د لاسرسي نیټه: ۰۶/۰۵/۲۰۱۶)

۴- د آکسفام سازمان، د خوراکي موادو احتکار (OXFAM)، ۲۰۱۶، (Lebensmittelspekulation)

(په ليکه), دلته بې وګورئ:
https://www.oxfam.de/unsere-arbeit/themen/nahrungsmittelspekulation

(د لاسرسي نيټه: ۰۶/۰۵/۲۰۱۶)

۵- ساريتا پوجاري، د مالي بازارونو مهمي دندي، ۲۰۱۵، (Important Functions of Financial Market)
(په ليکه), دلته بې وګورئ:
http://www.yourarticlelibrary.com/stock-exchange/4-important-functions-of-financial-market/1052/
(د لاسرسي نيټه: ۰۶/۰۵/۲۰۱۶)

پای


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ